مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۲/۰۳

# د غونځې ستن

## (Stoppenålen)

## H. C. Andersen

### لومړۍ برخه



وه نه وه، د غونځې یوه ستن وه، چې ځان یې له ټولو ښه ګاڼه او په ټولو یې منلې وه چې دا د ګنډلو یوه ښه ستن ده.
یوه ورځ یې هغو ګوتو ته چې دا یې نیولې وه، وویل:
«ما ټینګه ونیسه، که پر مځکه ولویدم، نوره به مې پیدا نه شئ کړای! زه ډیره نازکه، ښایسته او ارزښتمنه یمه!»
ګوتو هغه نوره هم ټینګه کړه او وې ویل:
«مغروریږه مه!»
اوږد تار یې په ستن کې واچاوه، خو هیر یې شو چې د تار وروستۍ برخه غوټه کړي. ګوتو ستن د پخلنځي په یوه پسته څپلکه کې، چې څیرې شوې وه، ننه ایسته چې وې ګنډي، خو ستن ماته شوه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ




د غونځې ستن وويل:
«ومې نه ويل چې زه ډېره ظريفه او نازکه يم، ماتيږم!»
ميرمن چې ستن يې په لاس کې نيولې وه، وويل:
«دا ستن هيڅ په درد نه لګيږي.»
بيا يې د پخلنځي د جامو په لمن کې وټومبله.
ستن خوشاله شوه او له ځان سره يې وويل:
«څومره ښه، اوس زه د ټټر يو سنجاق شومه! پوهيدم. پوهيدمه چې آخر به داسې يو ځای او مقام ته ورسيږم، ځکه که څوک استعداد ولري، خامخا هغه ځای ته رسيږي، چې غواړي يې.»
ستنې وخندل:
«پوهيږمه چې هيڅ چا تر اوسه د غونځې د ستنې خندا نه ده ليدلې.»
ستنې د ښځې د پخلنځي په لمن کې ځان داسې ګانه لکه يوه شهزادګۍ چې په زرينه ګاډۍ کې ناسته وي، او په وياړ سره شا و خوا ته ګوري.
ستنې په لمن کې له يوه سنجاق نه چې په څنګ کې يې ټومبلی و، پوښتنه وکړه:
«کولای شم له تاسو نه يوه پوښتنه وکړم؟
آيا ستاسو زرين ياست؟ ښه خو دې ښه ښکاري، ښه وړوکی سر او ځان! هڅه وکړئ چې سر مو لږ غټ شي. تاسو پوهيږئ چې هر څوک سر لري، خو دا نيکمرغي هر چا ته نه ور په برخه کيږي چې آشپز يې په خپل ټټر کې وټومبي.»
څنګه چې ستن ډېره مغروره شوې وه، غاړه يې تازه کړه او خپل قد يې جګ کړ، په دې کار سره له لمنې نه د لوښو مينځلو غوړو او مردارو اوبو ته ولويده او آشپز هم هغه اوبه ايسته واړولې.
مغرورې ستنې له ځان سره وويل:
«هيڅ مهمه نه ده. زه يوه سفر ته ځمه، يوازينۍ هيله مې دا ده چې ورکه نه شم.»
خو هغه له هغه څه چې ډاريده، وربانديې راغلل او د ککړو اوبو يوې ويالې ته ور ولويده، نو له ځان سره يې وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

«سره له دې چې زه ډېره نازکه او ښکلې یم، خو ښه استعداد لرم، او دا خپله یو لوی نعمت دی!»
همالته یې سر په غرور سره جګ ونیو، هماغسې مغروره وه او له خپلو پوچو افکارو نه یې لاس نه ایسته. رنګارنګ شیان لکه: د لرګیو پرخچې، خس خاشاک، د ورخپاڼو ټوټې او ځینې نور شیان یې له څنګه تیرېدل، د غونځې ستن له ځان سره وویل:
«ګوره چې دوی څه ډول روان دي، هغوی نه پوهېږي چې څه یو قیمتي شی یې په څنګ کې دی. له دې سره هم زه دلته په عزت او شان سره دلته درېږم. وګوره! څه یو ټوټه لرګی په تیریدو دی، خامخا د ځان په باب فکر کوي، پرته له ځانه، بل څه نهویني.
عجیبه ده!
هغو خسپلو ته وګوره! څنګه خپل ځان پورې تاویږي!
ګوره دومره مه مغرورېږه!
ښایي د ویالې د غاړې په تېرو باندې ولګیږې، بیا به حرکت نه شې کولای!
دا هم یوه ورخپانه چې زما په مخ کې روانه ده، خو زه دلته غلې او کلکه درېږم او صبر کوم، ځکه زه په خپل ارزښت پوهېږم او په هغه باور لرم!
یوه ورځ د غونځې ستنې څنګ ته یو ځلیدونکی شی ښکاره شو، د غونځې ستنې فکر وکړ چې دا کومه ټوټه الماس دی، ځکه یې ځان ورنږدې کړ او ځان یې ور وپیژاند. هغه ځلیدونکی شی د ماتې شیشې یوه ټوټه وه او د ستنې خبرو ته یې غوږ نیولی و.
د غونځې ستنې وویل:
«آیا تاسو الماس یاست؟»
د شیشې ټوټې وویل:
«هوکې، دغسې یو شی باید اوسم!»
هغوی دواړو یو بل ګران بیه وګڼل، دواړو د زړه خواله پیل کړه او د لیدلي غرور او ځانخوښونې په باب یې یو بل ته کیسې وکړلې.
د غونځې ستنې وویل:
«ما د هغې میرمنې په صندوقچه کې ژوند کاوه چې کار یې پخلی و. د هغې په هر لاس کې پنځه ګوتې وې، ما له هغو پنځو ګوتو نه پرته له ځانخوښونې بل څه و نه لیدل، د هغوی کار دا و چې ما له صندوقچې را وباسي او بیرته مې په کې کیږدي.»
د شیشې ټوټې پوښتنه وکړه:
«آیا هغوی کومه ځلا هم درلوده؟»
د غونځې ستنې وویل:
«نه هغوی ځلا نه درلوده. هغوی ډېر مغرور وو. هغوی پنځه ورونه وو چې په ډېر تکبر سره یو د بل په څنګ کې ولاړ وو، خو قدونه یې سره په توپیر کې وو.
د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ